ليکوال: هانس کريستين اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۲۹

# تکړه حلبي سرتيری

# Den standhaftige Tinsoldat



و، نه و يو وخت پنځه ويشت حلبي سرتيري وو، چې ټول سره ورته او ويل کيدل چې سره ورونه دي، ځکه چې دوی ټول له يوې زړې حلبي کاشوغې څخه جوړ شوي وو. د هغوی شکل او څيره داسې ښکاريده لکه چې ټولو ټوپک پر اوږه اړولي وي، ټولو مخامخ کتل او رسمي آبي ـ سور يونيفورم يې ډيرې ښايسته و.
په هغه صندوق کې چې دوی اېښودل شوي وو، د هغه سر چې بيرته کړای شو، لومړنی خبره چې هغوی په دې نړۍ کې واوريده، دا وه:
«حلبي سرتيرو!»
دا د هغه کوچني هلک غږ و چې دا سرتيري د هغه د زيږيدو د کليزې په پار، ده ته اخيستل شوي وو. هغه له خوشالۍ نه لاسو ته پړق ورکړ، سرتيري يې له صندوق نه را ويستل او د ميز پر سر يې کتار کيښودل.
پرته له يوه سرتيري، نور ټول سره ورته وو. دا يو له نورو سره ورته نه و، هغه يوازې يوه پښه درلوده، ځکه د جوړولو په وخت کې کله چې يې په قالب کې اچول، حلبي فلز خلاص شوی و، ځکه يې يوه پښه نيمګړې پاتې شوې وه. خو هغه په دا يوه پښه داسې استواره او کلک ولاړ و، لکه دا نور چې په دوو پښو ولاړ وو، هغه ډير فوق العاده او ځانګړی و.
پر ميز باندې د لوبو ډير شيان پراته وو، خو چې ډيرې سترګې ور اوښتې، د هغو په منځ کې له کاغذو جوړه يو ښکلې ماڼۍ وه. د ماڼۍ له وړو کړکيو نه کيدای شول چې د ماڼۍ په منځ کې د سالون ننداره هم وشي. د ماڼۍ په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مخکې، د یوې وړې آینې پر شا و خوا وني را تاو وې چې د یو سیند ګوټي په څیر ښکاریدې. د آیینې پر مخ، له موم څخه جوړې بتکې د لمبا په حال کې ایښودل شوې وې، چې انځور یې منعکسیده؛ خو تر ټولو ښکلې هغه پیغلوټه وه چې د مانۍ د پرانستې وره په منځ کې ولاړه وه، هغه یې هم له کاغذ نه جوړه کړې وه. لمن یې له ښکلې آبي ټوټې نه جوړه شوې وه چې د اوږو د سر دسمال یې هم په همغه رنګ و چې وربانديې ځلیدونکې ستارې هم ټومبل شوې وې.
پیغلوټه د ګډا په حالت کې داسې انځور کړای شوې وه چې دواړه لاسونه یې جګ نیولي دي او د یوې ګډیدونکې په توګه یې، یوه پښه دومره جګه کړې وه چې، یو پښه لرونکي حلبي سرتیري نه شوای کولای هغه وګوري او داسې فکر یې کاوه چې دا هم یوه پښه لري.
حلبي سرتیري فکر وکړ: «هغه کولای شي زما میرمن شي، خو هغه ډیره برجسته او ممتازه ده، په مانۍ کې ژوند کوي، زه یوازې یو صندوق لرم چې موږ ټول پنځه ویشت تنه په کې یو او هلته د هغې له پاره کوم ځای نه شته!
دغه شان، حلبي سرتیري د میز پر مخ د ځانګړو تنباکو د ایښودل شوي لوښي له شا نه ځان ورجګ کړ څو وړه ناوکۍ وګوري. وړه ناوکۍ پرته له دې چې خپل تعادل له لاسه ورکړي، د پښو پر څوکو ولاړه وه.
د شپې له خوا ټول سرتیري په صندوق کې کېښودل شول او د کور اوسیدونکي خپلو کټونو ته شول. د لوبو اسبابونو لوبې پیل کړې، لوبې لکه لیده کاته، د جګړې لوبې او د جشنونو جوړول.
حلبي سرتیرو هم په صندوق کې غږ ځوږ پیل کړ، ځکه هغوی هم غوښتل جګړه پیل کړي، خو نه یې شوای کولای چې د صندوق سر بیرته کړي. خستکې ماتونکي مخ ځټ وارونه کول، د تابلو پرمخ قلم ښکته پورته کیده. دا شور و ځوږ دومره ډیر شو چې قناري هم له خوبه را پاځیده چې له دوی سره وغږیږي، خو یوازیني کسان چې هیڅ له خپل ځایه و نه ښوریدل، هغه حلبي سرتیری او ښکلې ګډیدونکې وه. ښکلې ګډیدونکې د خپلو پښو د ګوتو پر څوکو ولاړ وه او دواړه لاسونه یې دوو خواوو ته غوړولي وو، حلبي سرتیری هم کلک پر یوه پښه ولاړ و او خپلې سترګې یې له ښکلې ګډیدونکې نه بل خوا نه غړولې.
ساعت د دولس بجو زنګ وغږاوه، د میز پر مخ د ځانګړو تنباکو د ایښودل شوي لوښی سر ولوید، خو تنباکو په کې نه و او د یو تور دیو (دیپ) غوندې کوم هنري څه په کې ایښي وو.
تور دیو (دیپ) وویل:
هغې ته مه ګوره، خپلې سترګې دې، خپل ځانته ونیسه!
خو حلبي سرتیري داسې وښوده چې ده څه نه دي اوریدلي.
تور دیو (دیپ) وویل:
«سمه ده، تر سهار پورې به صبر وکړو!»
کله چې سهار شو او ماشومان له خوبه را جګ شول، حلبي سرتیری یې په کړکۍ کې کېښود، پته ونه لګیده چې ګناه د تور دیو (دیپ) وه که د باد، چې ناڅاپه کړکۍ خلاصه شوه او حلبي سرتیری له دریم پوړ نه سر په څیړۍ لاندې ولوید. دا ټول په ډیره بیړه تر سره شول: حلبي سرتیری په ککره، پر مځکه ولګید او نیزه یې د پلیو د لارې په تیږو کې ننوته.
د کور خدمتګاره جلۍ او د کورنۍ وړوکی هلک لاندې ولاړل چې هغه ولټوي. هغه یې نه و لیدلی، نږدې و چې پښه وربانديې کیږدي، که سرتیري غږ کړی وای، چې زه دلته یم، کیدای شوای چې هغه یې پیدا کړی وای، خو هغه سره زیبنده نه وه چې نظامي جامې په تن کې، په لوړ غږ چیغه وکړي.
باران په وریدو شو او ورو، ورو پسې توندیده. کله چې توند باران پای ته ورسید، دوه لوچک هلکان را پیدا شول، یوه یې وویل:
«ته وګوره! دا خو یو حلبي سرتیری دلته پروت دی! هغه باید کشتۍ وچلوي!»
هغوی د اخبار له کاغذ نه یوه کشتۍ جوړه کړه، حلبي سرتیری یې په کې کیناوه او کشتۍ یې په ویاله کې خوسې کړه، خپله د ویالې له غاړې روان وو او لاسونه یې پړکول.
خدایه، دا څه قوي څپې دي! څه رواني اوبه دي! اوبه وې چې رواني وې او له کاغذ جوړه کشتۍ ور سره ښکته پورته تلله. کله به ګرده تاو شوه او د حلبي سرتیري سر به یې ګنکس کړ، خو سره له دې هم حلبي سرتیري مخامخ کتل او خپل ټوپک یې پر اوږه اړولی و او داسې کلک ولاړ و، چې ښوریده هم نه.
ناڅاپه کشتۍ د مردارو اوبو یو سرپټي ځای ته ور ننوته او هر څه داسې تیاره شول لکه په کور کې چې په سر پټي صندوق کې تیاره وه. حلبي سرتیري له ځان سره سوچ وکړ:
«نور نه پوهیږم چې چیرې به ورسیږم. هوکې، دا ټول د تور دیو (دیپ) ګناه ده. اوه، که ښایسته ګډیدونکې له ما سره په کشتۍ کې وای، آیا دا ځای به همدومره تیاره شوی وای!»
په همدې شیبه کې د اوبو یو غټ موږک چې په مردارو اوبو کې یې ژوند کاوه راغی او پوښتنه یې وکړه:
«پاسپورت لرې؟ پاسپورت دې وښیه!»
حلبي سرتیري څه ونه ویل او خپل ټوپک یې ټینګ نیولی و. کاغذي کشتۍ وشکیده، خو موږک په لمبا ورپسې روان و، غاښونه یې چیچل او په لرګیو او وښو بانديې یې چغې وهلې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«وي درويځ! وي درويځ! هغه ماليه نه ده ورکړې! هغه خپل پاسپورت هم نه دی ښودلی!»
خو د اوبو څپې لا پسې تيزيدې او ګړندی کيدې. حلبي سرتيري کولای شول چې د رڼا په لمن کې هغه ځای و ويني چې مرداري اوبه په خلاصيدو وي، خو د داسي غريو غږ يي واوريد چې زړور کسان يي هم ډارولای شول. ښه سوچ وکړئ، چيرې چې وياله پای ته رسيده او يوه لوی کانال ته ورتويده، دا د حلبي سرتيري له پاره دومره خطرناکه و لکه څوک چې په يو ستر ځروبي کې کشتی وچلوي.
حلبي سرتيری دومره کانال ته ورنږدې شوی و چې نه يي شول کولای ودريږي، حلبي سرتيري ځان ټينګ نيولی و او کشتی په ګړنديتوب سره روانه وه.
کشتی درې څلور ځلې ګرده وځرخيده، يوه څنډه يي له اوبو ډکه شوه او د ډوبيدو پر لور روانه وه. حلبي سرتيری تر ستوني په اوبو کې ډوب و او کشتی نوره هم په ډوبيدو وه. کاغذي کشتۍ ډيره شواړه شوې وه او اوبه يي تر سر پورې رسيدې.
په دغه وخت کې حلبي سرتيري ته وړه نڅاګره ورپه ياد شوه چې نور يي هيڅکله ليدلای نه شوه او دې پخوانی سندرې يي په غوږونو کې آزانګې وکړې:

**اې جنګياليه خپله لار وهه!**
**مرګ درته سترګې په لاره دی!»**

کاغذ ټوټې، ټوټې شو او حلبي سرتيری په اوبو کې ولويد او يوه لوی کب تر ستوني تير کړ.
اوه! دا ځای څومره تياره دی، له مردارو اوبو نه هم دا ځای تياره دی، ډير تنګ او وړوکی ځای دی. حلبي سر تيری اوږد غځيدلی و، ټوپک يي په غيږ کې نيولی و، کلک او استواره پاتې شو.
کب هرې خوا ته په لمبا سره روان و او ځان يي تاواوه را تاواوه او په پای کې آرامه شو. ناڅاپه د رڼا يو پرق شو او رڼا ښه وځليده چې چا غږ وکړ:
«حلبي سرتيری!»
کب ښکار شوی و، بازار ته وړل شوی او خرڅ شوی و. يوې چوپړې نجلی هغه پيرودلی و، پخلنځی ته يي رسولی او په يوه لويه چاړه يي څيرلی و.
چوپړې نجلی په خپلو دوو ګوتو حلبي سرتيری راجګ کړ او صالون ته يي له ځان سره يووړ، هلته ټول د يو عجيب او فوق العاده سړي ليدلو ته سترګې په لاره وو، کوم چې د يو کب په نس کې يي سفر کړی و، خو د حلبي سرتيري خوښه نه وه .
سرتيری يي د ميز پر سر کيښود او هلته... څه عجيبه نړۍ ده! حلبي سرتيری په هغې کوټه کې اېښودل شوی و، چې پخوا په کې و. هماغه کوچنيان وو او هماغه د لوبو سامان د ميز پر سر اېښودل شوي وو. پرتمينه مانۍ، وړوکې ښکلې رقاصه چې تر اوسه پورې هم، له خلاصو لاسونو سره پر يوه پښه استواره ولاړه وه.
پر حلبي سرتيري يي سخت تاثير وکړ، غوښتل يي وژاړي، خو ژړا يي په شان کې نه وه.
حلبي سرتيري ښکلې رقاصې ته وکتل او هغې هم سرتيري ته وکتل، خو سره ونه غږيدل.
نا څاپه يوه وړوکي هلک حلبي سرتيری راجګ کړ او د ديوالي بخاری په اور کې يي واچاوه، پرته له دې چې څه و وايي دا کار يي وکړ. دا لکه چې د تور ديو(ديپ) ګناه وه!
حلبي سرتيری له سره تر پښو اور واخيست او په درد منه توګه تک سور شو، خو ښکاره نه شوه چې دا سور والی د اور له کبله و که د مينې تاثير و. ټول رنګونه يي ورک شول، خو مالومه نه شوه چې رنګونه د سفر له کبله ورک شول که له غمه. هغه احساس کړه چې د ويلي کيدو په حال کې دی، خو ټوپک پر اوږه ټينګ ولاړ و او ښايسته رقاصې ته يي کتل.
ناڅاپه دروازه خلاصه شوه، باد په ښايسته رقاصې باندې ولګيد او هغه لکه يوه ښاپيری د حلبي سرتيري په لوري د اور منځ ته ور والوتله، هلته د اور شغلو کې وسوځيده او خلاصه شوه. حلبي سرتيری هم ويلي شو او په يوه وړه ټوټه بدل شو.
يوه ورځ وروسته کله چې خدمتګاري نجلۍ ايرې ټولولې، هغه يي د يوه واړه حلبي زړه په ډول پيدا کړ او له وړې رقاصې نه يوازې يوه توره ځليدونکې ستاره يا سکه پاتې وه.

پای

منبع:
H.C.Andersen Eventyr,1, 277 – 286 s, Odnsa, Denmark,1994


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ